
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ پنځمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲۶مه | ٤٦٩مه گڼه

## څېره

۴ مخ



### جک لندن

د جک لندن ماشوموالی په سختو اقتصادي شرایطو کې تېر شوی دی، لوښي یې مینځلي دي، د کارتن جوړونې په فابریکو کې یې کار کړی، په کښتۍ کې یې درانه بارونه یوه او بله خوا کړي دي؛ خو زده کړې یې نه دي پرې اېښې او همدې ټینګې مبارزې نوموړی د نړۍ په سطحه مشهور کړی دی.

### کرنې ریاست: د بلخ په کرنیزو محصولاتو کې ۴۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی



د بلخ د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي چې د تېر کال په پرتله په روان لمریز کال کې په دغه ولایت کې د کرنیزو محصولاتو کچه شاوخوا ۴۰ سلنه لوړه شوې ده.

د بلخ د کرنې ریاست سرپرست ذبیح الله ذوبین د کرنیزو محصولاتو ډېرېدو ته په اشارې ویلي، چې د اوبو کمښت د بلخ د کروندګرو تر ټولو لویه ستونزه ده.

نوموړي زیاته کړې چې په روان ۹۸ لمریز کال کې د اورښتونو په زیاتېدو سره، د کرنیزو محصولاتو کچه لوړه شوې چې ورسره د کروندګرو اقتصادي حالت هم ښه شوی دی.

هغه دغه راز ویلي چې په بلخ کې د ناامنۍ څپې په پراخېدو سره بیا هم دغه ریاست توانېدلی چې خپل مسوولیتونه په سمه توګه ادا کړي. د بلخ د کرنې ریاست د سرپرست په خبره، د همدغه کال تر پایه به په دغه ولایت کې پر شاوخوا ۱۳ زرو کروندګرو ۶۰۰ مټریک ټنه د غنمو اصلاح شوی تخم هم ووېشل شي.

# د بیان ازادي او شته خنډونه؛

## حامد کرزی: هغه کسان ګواښل کېږي او وژل کېږي چې مخالف غږ لري



۳

د بیان ازادي، وروستي ګواښونه او پر حکومت ۲ مخ

د مومندو جنګونه ۲ مخ

د ژوند په اړه اته ترخه حقیقتونه ۵ مخ

### ولسمشر غني: په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو قربانۍ د درناوي وړ دي

ولسمشر غني په افغانستان کې د وژل شویو او ټپي شویو امریکایي سرتېرو قربانۍ د درناوي وړ بللې دي.

له ارګ څخه په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې ولسمشر غني د امریکا د کانګرېس او سنا ګډ پلاوي غړو سره په کتنه کې ویلي، چې د افغانستان او امریکا مشارکت ستراتېژیک او دوامداره دی او د تروریزم د له منځه وړلو او په افغانستان کې د سولې او ثبات د تامین لپاره د وژل شویو او ټپي شویو امریکایي سرتېرو قربانۍ د درناوي وړ دي.

ولسمشر غني په دې مجلس کې همدا راز ویلي، چې افغان حکومت د سولې لپاره داسې پروګرام لري چې اهداف یې واضح دي او عملي کول به یې په هېواد کې د جګړې د پای ته رسېدو لامل شي.

په ورته وخت کې د حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله هم ورمه شپه په سپېدار ماڼۍ کې د راغلو امریکایي سناتورانو له پلاوي سره د لیدنې پر مهال هیله ښودلې، چې د سولې په برخه کې وروستي اقدامات به د افغان حکومت او طالبانو تر منځ مخامخ خبرو ته زمینه برابره کړي.

ولسمشر غني داسې مهال په افغانستان کې د ټپي شویو او وژل شویو امریکایي سرتېرو قربانۍ د درناوي وړ بولي، چې د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ څو ورځې مخکې په افغانستان او عراق کې پر جنګي جنایتونو تورن امریکایي سرتېري وبښل، خو افغان حکومت یې پر وړاندې هېڅ غبرګون ونه ښود.

### معترض نوماندان دې کمېسیون ته د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکړي



۲ مخ

### باشنده گان پکتیکا: در ۹ ولسوالی شبکه های مخابراتی فعالیت ندارد و از اثر آن با مشکلات مواجه ایم



باشنده گان پکتیکا می گویند که در ۹ ولسوالی این ولایت، شبکه های مخابراتی فعالیت ندارد و از اثر آن با مشکلات مواجه اند.

در این ولسوالی ها؛ گیان، نکه، زیروک، گومل، اومنه، وازیخوا، تروی، ورممی و ولسوالی خوشامند شامل است.

محمد صادق باشنده ولسوالی تروی پکتیکا در این مورد، به آژانس خبری پژواک گفته است، از چندین سال به این طرف از اثر ناامنی در این ولسوالی، شبکه های مخابراتی فعالیت نمی کند.

او افزوده است: «در قرن بیست و یک زندگی می کنیم؛ اما تا هنوز به سهولت های مخابراتی دسترسی نداریم».

به گفته موصوف، در مناطق دیگر تمام مردم کارهای سوداگری و غیره را از طریق موبایل انجام می دهند؛ اما باشنده گان اکثر مناطق پکتیکا از این سهولتها محروم اند.

در همین حال عزیز عزیز عضو شورای ولایتی پکتیکا نیز گفته است که در این ولسوالی ها، شبکه های مخابراتی فعالیت ندارد.

از طرف دیگر، اصلاح هاشمی رئیس مخابرات پکتیکا، در این مورد به پژواک گفته است که در ۹ ولسوالی این ولایت، شبکه های مخابراتی فعالیت نمی کند.

او افزوده است: «مشکل بزرگ در این ولسوالی ها ناامنی است، شبکه های مخابراتی دل نمیکنند که درآنجا فعالیت را آغاز کنند. اول باید مشکل ناامنی آنها حل شود؛ تا شبکه های مخابراتی در آنجا فعالیت شان را شروع کنند».

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a book to your life

دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریـځ

# د بیان ازادي، وروستي ګواښونه او پړ حکومت

پخواني ولسمشر حامد کرزي پرون له ډېرو ژورنالېستانو، کارپوهانو، سیاستوالو او حقوقپوهانو سره په یوه خبرې غونډه کې را څرګند شو او د بیان ازادۍ ته په ور پېښو شوو وروستیو ګواښونو یې اندېښنه وښووده. حامد کرزي پرون په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال وویل، چې د تېرو اتلسو کلونو یوه مهمه لاس ته راوړنه د بیان ازادي ده، خو له بده مرغه په وروستیو دریو کلونو کې دغه مهمه لاس ته راوړنه له جدي ګواښ سره مخ ده. نوموړي له امریکا، اروپایي ټولنې، نړیوالې ټولنې او نورو نړیوالو ملاتړو وغوښتل چې په افغانستان کې د بیان ازادۍ د ساتنې لپاره مبارزه او همکاري وکړي. پخواني ولسمشر ویلي، په دې وروستیو کې په مستقیمه توګه هغه کسان ګواښل کېږي چې د بیان د ازادۍ له حقه په استفادې د سولې لپاره غږ اوچتوي. نوموړي وویل چې امنیتي ځواکونه باید د هېواد له ملي ګټو دفاع وکړي، نه دا چې په سیاسي معاملو کې د ځینو ځانګړو شخصیتونو او کړیو له لوري وکارول شي.

د بیان ازادۍ په ګواښ کې حکومت له دریو اړخونو پړ دی. لومړی دا چې په حکومت کې دننه ځینې کړۍ د دغو ګواښونو او بریدونو تر شا دي. که څه هم د دې ادعا لپاره پوره اسناد او شواهد پکار دي، چې لا نه دي وړاندې شوي، خو ځینې پېښې داسې دي چې شکونه پیدا کوي او دا ادعا پیاوړې کوي. ځینې پېښې داسې دي چې پل یې حکومتي ادارو ته تللی او حکومت نه دی توانېدلی چې په دې برخه کې د قناعت وړ ځواب ورکړي. آن کله کله په ټولنیزو رسنیو کې حکومت پلوي کسان او پاڼې د دغو ګواښونو او بریدونو ستاینه او ملاتړ کوي. دویم دا چې حکومت د دغو بریدونو پر وړاندې بې تفاوته دی او نه غواړي چې د بیان ازادۍ ته د دغو ور پېښو ګواښونو مخه ونیسي. د بیان ازادۍ ته په وروستیو کې د ور پېښو شوو ګواښونو په برخه کې حکومت سوړ چلند کړی او داسې ښیي چې کوم مهم کار نه دی شوی. د حکومت دا سوړ چلند سم نه دی او له همدې امله پړ هم دی. دریم دا چې حکومت د بیان ازادۍ، ژورنالېستانو، سیاسي کارپوهانو او د نظر خاوندانو ته د ور پېښو ګواښونو په مخنیوي کې پاتې راغلی دی. بیا بیا دا ګواښونه شوي، وسله وال بریدونه شوي، ځینې کسان ټپیان شوي او په وروستۍ پېښه کې وحید مژده شهید شوی، خو حکومت د دې یوې پېښې مخنیوی هم ونه کړ او نه یې د دغو بریدونو په تړاو څوک نیولی دي. له همدې امله حکومت ناکام دی او نه دی توانېدلی چې په اساسي قانون کې د خلکو د خوندي شوي حق ساتنه وکړي.

که په دغو دریو واړو کې هر لید سم وي، بیا هم حکومت پړ دی او باید خلکو ته قناعت کوونکی ځواب ووایي. کله چې خلک د فکر او نظر د بیان په غبرګون کې د ټوپک له شپېلۍ سره مخ کېږي، بیا نو جمهوریت، ولسوالي او د بیان ازادي مانا نه لري. له همدې امله حکومت باید د دغه حالت د بدلون لپاره ګام واخلي. که حکومتي کړۍ په دغو ګواښونو کې ښکېلې وي، باید مخه یې ونیسي او سزا ورکړي. که حکومت ته دا چاره مهمه نه وي، پکار ده چې د اساسي قانون د حکم پر اساس یې مهمه وګڼي او که حکومت ناکام شوی وي چې د دې پېښو مخه ونیسي، دا ناکامي هم د زغم وړ نه ده. له همدې امله د بیان ازادي باید خوندي شي او نور باید دا ګواښونه او بریدونه ودرېږي.

# د مومندو جنګونه

ليکنه: صفیه حلیم

له ۱۸۵۱ ز کال وروسته د سپین غر دواړو غاړو مومندو او انګریز پوځ تر منځ ۸۳ لوی او واړه جنګونه وشول.

د مومندو لوی ټبر له کندهار او کندوزه تر پېښور پورې خپور دی. د باجوړ، کونړ او ننګرهار تر غرونو پورې راپورې د دې قام له یو بل سره خپلوي ده. له پېښور څخه ۳۵ کلومیتره شمال- لوېدیځ کې د مومندو په سیمه کې د سوات او کابل سیندونه بهېږي. د نولسمې میلادي پېړۍ له پیله (۱۸۲۰- ۱۸۴۰ ز کاله) سیکانو د خپل پوځ لپاره له دغو سیندونو سره د خټو کلاګانې جوړې کړې. په شبقدر کې د «شنکر ګړ» کلا په ۱۸۳۷ ز کال کې جوړه شوه او هماغه وو چې د مومندو له خوا پرې حملې پیل شوې.

هاخوا د کابل سیند پرګس لاس «مچني» (متنو) کې سیکانو د خټو یوه وړه کلا جوړه کړې وه، چې د هري سنګ له مړینې وروسته دوی انګرېزانو ته پرېښوده. د ۱۸۴۰ ز کال په ژمي کې د سیکانو راج په ختمیدو شو، نو مومندو له یوه لوی لښکر سره پر شنکر ګړ برید وکړ او مخالف لوري ته یې ځاني تاوان واړاو.

په ۱۸۴۹ ز کال کې د شنکر کلا انګریزانو واخیسته، نو د ۱۸۵۰ ز کال په ډسمبر کې د سعادت خان زوی فتح خان په مشرۍ یو لښکر ورباندې برید وکړ. د ۱۸۵۱ ز کال په مارچ کې د دوآبې مومندو پر کلا بله حمله وکړه او له معمولي تاوان وروسته ترې ووتل. هماغه کال انګریزانو په مچني کې د یوې نوې کلا جوړول پیل کړل. مومندو د اکټوبر په ۲۵م پر دغه کلا برید وکړ او د بل کال د فبرورۍ تر ۱۲م پورې یې دغه حملې رواني وې. «لیفټنټ بولنویا» چې د انګریز انجنیرانو د ډلې مشر و او دغه کلا یې جوړوله، په ۱۸۵۲ ز کال کې د مومندو په یوه حمله کې ووژل شو. په ۱۸۵۴ ز کال کې پر مچني بیا یرغل وشو، خو شاوخوا ۱۵۰۰ هندي پوځ خپله ترې دفاع وکړه.

د ۱۸٦٤ ز کال د جنورۍ په دویمه شاوخوا پنځه زره مومند پر مچني کلا وروختل، خو انګریز د درنې وسلې په مټ ځان وساتلو او دوی د افغانستان په امیر شیرعلي خان زور راوړو چې د مومندو مشر له نورو حملو څخه منع کړي. دغه مشر سعادت خان له بارکزو سره خپښي کړې وه، نو د امیر په وینا څه موده جنګ ونه شو. د ۱۸۷۳ ز کال د مارچ په ۲۲مه مومندو پر مچني کلا بیا حمله وکړه چې کرنل میکډونلډ پکې ووژل شو.

په ۱۸۹۷ ز کال کې مومندو یو وار بیا پر شنکر ګړ د حملې پلان جوړ کړ. دا ځلې د اشنغر پښتانه هم ورسره مله وو. خو څو کسانو پکې د خپلو ترېرونو او ورونو خلاف انګریز ته چغلي کوله. دوی به انګرېزانو ته هغه کورونه په نښه کول چې ځوانان یې په غزا کې د ګډون لپاره تلل. هغه کورونه به یې سیزل او مومند مات شول.

په ۱۸۷۹ ز کال کې، د دویم افغان انګریز جنګ په وخت د پښتنو په ټولو سیمو کې له انګریز سره غزا اعلان شوه. په ۱۸۸۰ ز کال کې د مومندو لویو قامونو په باجوړ کې پر انګریز لښکر چپاو وکړ، چې مشر یې «جنرال ډورن» و. انګریز انځري کنډاو ونیولو او کومک یې وغوښت او هماغه وو چې له مالاکنډ څخه «بینډون بلډ» او له پېښور څخه «ایډمنډ ایلس» د سپټمبر په شپږمه له خپلو دستو او درنې وسلې سره روان شول. دواړو ځواکونو په باجوړ کې د یو کېډو پلان لرلو. د مالاکنډ دسته په ۱۴مه نېټه ناوګۍ ته ورسیده؛ خو له رامبهټ درې څخه د تېرېدو په وخت کې په «مرخانۍ» کې غازیانو ورباندې حمله وکړه. په ۱۵مه نېټه بریګېډیر جیفریز په عنایت کلي کې پړاو وکړو او په بله ورځ په دریو لیکو کې مومند درې ته ورننوتل چې هلته په سخت جنګ کې د انګریز ۱۴۹ کسان ووژل شو. جنرال بلډ له سخت فشار سره هم په ناوګۍ کې د ایلس دستې ته په انتظار و. هغه جیفریز ته پیغام ورواستاو چې مومندو کې خپل عملیات جاري وساتي. د سپټمبر په ۲۰مه د شپې له خوا د ناوګۍ په برېټانوي کمپ د هډې ملا له خپلو ۴۰۰۰ کسانو سره حمله وکړه. په دې کې هم د انګریز ځاني تاوان ډېر و، خو دوی د مومندو څو کلي وسیزل. جنرال بلډ او ایلس په «لکړۍ» کې یو ځای شول او ایلس د خپل پلان له مخې د بر مومندو کوډه خیلو ته حرکت وکړ. هلته هم په سخت جنګ کې د دوی ۳۰ پوځیان مړه او ژوبل شول. د سپټمبر په ۲۲مه د جیفریز پوځ هم ورسره یو ځای شو. د همدې میاشتې په ۲۴مه دوی پنجکوړې سیند ته وکوچېدل او په ۲۷مه نېټه یې جیفریز د مومندو څو کلي وران کړل. د همدې میاشتې په ۳۰مه نېټه مومند په اګره کلي کې د انګریز پر پوځ پریوتل او د دوی ٦۱ کسان یې ووژل. د اکټوبر په دویمه جنرال بلډ عنایت کلا ته نور کومک راوغوښتو او مومندو ته یې د روغې وړاندیز وکړ. د اکټوبر په ۱۵مه دواړو غاړو روغه وکړه.

د ډیورنډ په تړون د مومندو سیمه وویشل شوه او په پښتونخوا کې د انګریز خلاف یو عمومي جهاد اعلان شو. په ۱۸۹۷ ز کال کې د «هډې» ملا نجم الدین اخونزاده په مشرۍ د مومندو لښکر پر شنکر ګړ (شبقدر) حمله وکړه او شنکر بازار یې چور کړو. له دغو حملو وروسته انګریزانو امیر عبدالرحمان ته ګواښ وکړ چې د دوی مخالفانو ملاتړ دې پرېږدي. امیر په یو فرمان کې د جلال آباد له حاکم څخه غوښتنه وکړه چې افغانان دې په جهاد کې له ګډون کولو منع کړي.

په ۱۹۰۲ او ۱۹۰۳ ز کلونو کې د باجوړ مومندو په خپله سیمه کې د سړک جوړولو خلاف پاڅون وکړ. له وړو نښتو وروسته، په ۱۹۰۸ ز کال کې غازي میر زمان خان او د بټخاک ملا عبدالشکور په اقرب ډاګ کې خلکو ته د انګریز خلاف جهاد غږ وکړ، خو جنګ ونه شو. په ۱۹۱۵ ز کال کې په اقرب ډاګ کې درې ځلې د مومندو لښکر راټول شو او د انګریز الوتکو ورباندې بمونه وغورځول، خو مرګ ژوبله لږ وه. د مومندو دیني مشر د ترنګزو حاجي (سید فضل واحد) هم په دغو جنګونو کې ګډون کړی و.

په ۱۹۱٦ ز کال کې انګریزانو له مچني کلا څخه تر ابازو پورې د اوسپنې د ازغن تار دیوال جوړ کړ، چې برېښنا (بجلي) پکې ګرځېده. هدف یې دا و چې له مومندو څخه څوک بې له اجازې پېښور ته را نه شي. دا دیوال د مومندو کنډه تار(خنډه تار) په نوم مشهور و. په ۱۹۱۹ ز کال کې مومندو بیا د جهاد غږ پورته کړ، خو څه نتیجه یې ورنه کړه. په ۱۹۲۷ ز کال کې د مومندو لښکر د الینګار د فقیر صاحب په مشرۍ غزا ته راټول شول او د انګریز هوایي بمبارۍ له امله د غازیانو مرګ ژوبله ډېره وه. په ۱۹۳۰ ز کال کې د سمڅې په سیمه کې او په ۱۹۳۳ ز کال کې د مومندو لښکر په ګنداب کې انګریزانو ته دومره ځاني تاوان واړاو، چې هغوی له ګنداب څخه وتلو ته اړ شول.

په ۱۹۳۵ ز کال کې د ګنداب مومند یو ځل بیا له انګریز پوځ سره وجنګېدل، وسلې او مهمات یې ترې واخیستل او انګریز له ګنداب څخه ووت. په هند کې د خپلواکۍ لپاره مبارزه کوونکي به د مومندو په لار افغانستان ته اوړیدل. اخر تر ۱۰۰ کاله جنګ وروسته د مومندو په سیمه کې ارامي شوه.

## حقوقپوهان: د ټرمپ له خوا په افغانستان کې د جنګي مجرمینو ښښنې د پوځي عدالت سیسټم ته زیان رسولی

د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خوا پر جنګي جرمونو د تورنو سرتیرو د ښښلو پر وړاندې غبرګونونه لا هم دوام لري.

دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ په دې وروستیو کې د افغانستان او عراق په جګړو کې د ملکي خلکو پر وژلو تورن سرتېري، چې د محکمې له خوا هم پر بند محکوم شوي وو، وبښل.

شنونکي وایي، ټرمپ په دغه کار سره د پوځي عدالت سیسټم او اخلاقي اصولو ته زیان اړولی دی.

نیوکه دا ده چې ټرمپ د نړۍ په معاصر تاریخ کې لومړنی ولسمشر دی، چې پر جنګي جنایتونو تورن اشخاص ښښي.

امریکایي حقوقپوهان وایي، ټرمپ په دغه کار سره د پوځي عدالت سیسټم او اخلاقي اصول چې دواړه جنګي جرمونو ته د رسیدګۍ ستنې بلل کېږي، زیان اړولی دی.

دوی وایي، دا ډول اقدامات په قانون، اصولو، ټولنیزو ارزښتونو او آن خپلو ملګرو او حکومت کې د مجرمینو د بې باورۍ لامل ګرځي.

په ورته وخت کې نیویارک ټایمز امریکایي ورځپاڼې هم په دې تړاو لیکلي: «که دلیل یې هر څه وي، پر جنګي جرمونو د تورنو کسانو ښښل په عمومي توګه ټولنې او په ځانګړې توګه هغو نارینه او ښځینه وو ته درونډ زیان اړوي، چې په ویاړ او رښتینولۍ دندې پر مخ وړي. دوی باید پوه شي چې یوازې وژونکي ماشینونه نه دي».

پر جنګي جرمونو د تورنو سرتېرو د ښښلو د پرېکړې په متقدینو کې د تورنو کسانو ځینې پخواني ملګري او همکاران هم شامل دي.

په افغانستان کې پر جنګي جرمونو د تورن سرتېري د ډلګۍ غړي پاتریک سوانسن ویلي: «د خواشینۍ ځای دا دی چې خلک به «لورانس» د یوه اتل په توګه بدرګه کړي، په داسې حال کې چې هغه اتل نه دی. هغه د دغو وژنو امر ورکړی و او بیا یې په دې اړه دروغ ویلي دي».

ویل کېږي چې امریکایي پوځي کلېنټ لورانس خپلو سرتېرو ته پر دوو ملکي افغانانو چې پر یوه موټرسایکل سپاره وو، د ډزو امر کړی و، خو د سرتېرو له خوا یې د امر تر ردېدو وروسته د مخابرې په وسیله نورو امریکایي ځواکونو ته په هغوی د برید سپارښتنه کړې وه.

محکمې د دې پېښې په اړه د هغو سرتېرو د شاهدۍ له مخې، لورانس پر نولس کاله بند محکوم کړی و، چې په دې وروستیو کې د ټرمپ له لوري وبښل شو.

د ګولیستن په نوم د امریکا د ځانګړو ځواکونو افسر هم چې ټرمپ ښښلی، په ۲۰۱۰ ز کال کې څېړنو ته اعتراف کړی و، چې یو ملکي افغان یې وژلی دی.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، دا سرتېري یې د دې لپاره ښښلي، چې امریکایي ځواکونو ته وښیي چې په هر ډول وضعیت کې یې ملاتړ کېږي.

## یوناما: له ښځو سره د تاوتریخوالي د عاملینو د مجازاتو معافیت دې پای ته ورسېږي

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا یوناما ویلي، افغان حکومت باید د ښځو پر وړاندې د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي د ختمولو او د تر سره کوونکو د «معافیت» د له منځه وړلو په برخه کې نورې هڅې هم تر سره کړي.

یوناما تېره ورځ د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د پای ته رسېدو د ورځې په مناسبت په اعلامیه کې ویلي، که څه هم په افغانستان کې د ښځو د حقوقو په برخه کې کارونه شوي، خو زیاتوي چې جنسي او جنسیتي معافیت باید پای ته ورسېږي.

په دغه بیان کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ د مشر تدامیچي یاماموتو له قوله راغلي: «د جنسیت پر بنسټ ولاړ تاوتریخوالي عادي والي زیاتېدل باید پای ته ورسېږي».

نوموړي د جنسي او جنسیتي تاوتریخوالي پر وړاندې جدي مبارزه له دوامداره پرمختیا او د سولې په برخه کې د افغانستان لپاره مهم ګامونه بللي دي.

یوناما ویلي چې دغه ډول تاوتریخوالی د ښځو بشري حقونه اغېزمنوي او هغوی ته د پېغور، تبعیض او روحي ځورېدو سبب ګرځي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداري استازې، الیتا مېلر هم ویلي چې ډېری افغان مېرمنې لاهم د نابرابرۍ تر څنګ، له بشري حقونو څخه په پراخه کچه سرغړونې او دوامداره تاوتریخوالی تجربه کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د بشري حقونو خپلواک کمېسیون هم روانه اونۍ په خپل راپور کې وویل، چې روان کال د افغان مېرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي په پېښو کې اته سلنه زیاتوالی راغلی دی.

دغه کمېسیون وویل، چې په ۱۳۹۸ لمریز کال کې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ۲۷٦۲ پېښې یې ثبت کړې، چې ۸٦۱ پېښې د فزیکي تاوتریخوالي، ۱۳ پېښې د جنسي تېري، ۴۸۵ پېښې د اقتصادي تاوتریخوالي، ۱۰۱۴ د لفظي تاوتریخوالي پېښې او په سیاسي فعالیتونو کې د ګډون د مخنیوي څو پېښې هم پکې شاملې دي.

بلخوا د افغانستان د ښځو چارو وزارت ویلي، د تېر کال د نومبر له ۲۵مې د سږ کال تر همدې میاشتې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ٦۴۴۹ پېښې ثبت شوې دي.

د دغه وزارت په خبره، د دې پېښو له ډلې، ۲۸۸٦ د افغانستان عدلي او قضایي ادارو ته استول شوي او د ۴۵٦ پېښو لپاره مدافع وکیلان نیول شوي دي.

د سرچینې په خبره، ٦۸۲ پېښې د منځګړیتوب له لارې حل شوې او ۲۴۲۵ پېښې د ښځو مدافع او ملاتړو بنسټونو ته لېږل شوې دي.

د ښځو چارو وزارت ویاندې رویا دادرس ویلي، د تاوتریخوالي ډېرې پېښې په کابل، کندهار، هرات او بلخ ولایتونو کې ثبت شوې دي.

# د بیان ازادي او شته خنډونه؛

## حامد کرزی: هغه کسان گواښل کېږي او وژل کېږي چې مخالف غږ لري




په دې وروستیو کې په هېواد کې د بیان ازادۍ پر وړاندې د خنډونو پیدا کېدو په تړاو اندېښنې زیاتې شوې دي او داسې وېره شته چې گواکې ځینې کړۍ غواړي د خلکو غږ چوپ او ولسواکي په ملا ماته کړي. په همدې تړاو پرون پخواني ولسمشر حامد کرزي هم خبري کنفرانس درلود او ویې ویل چې په وروستیو دریو کلونو کې د بیان ازادي په هېواد کې خورا ترینگلی وضعیت لري. نوموړي پر حکومت غږ وکړ چې د بیان ازادۍ ته درناوی ولري او د دغه مهمې لاس ته راوړنې ساتنه وکړي.

په دې وروستیو کې په هېواد کې پر ځینو سیاسي شنونکو بریدونه وشول. همدا راز داسې راپورونه شته چې په رسنیزو بحثونو کې گډون کوونکي، سیاسي شنونکي او خبریالان گواښل کېږي او نامعلوم کسان ترې غواړي چې نور په بحثونو کې برخه وا نه خلي. په همدې تړاو او په هېواد کې د بیان ازادۍ پر ځرنگوالي پرون پخواني ولسمشر حامد کرزي هم خبري کنفرانس درلود. نوموړي په دې خبري کنفرانس کې وویل، د تېرو اتلسو کلونو لاس ته راوړنې یو اسلامي جمهوریت او بله د بیان ازادي ده چې باید وساتل شي. د ده په خبره، که له ولس د خبرو او وینا او همدا راز نظر ښرگندولو حق اخیستل کېږي، نو ولسواکي زیانمنېږي او جمهوریت مانا نه لري.

پخواني ولسمشر پرون په خبري کنفرانس کې وویل چې د بیان د ازادۍ پر وړاندې خنډونه او گواښونه مخ پر زیاتېدو دي او په وروستیو دریو کلونو کې د بیان ازادي په تر ټولو ترینگلي وضعیت کې ده. کرزي ویلي، کارپوهان او هغه کسان چې په ټلویزیوني یا راډیویي بحثونو کې راڅرگندېږي، گواښل کېږي او تر ډېره هغه کسان چې مخالف غږ لري ټپي شوي او ان وژل شوي دي.

ښاغلي کرزي په کابل کې د وحید مژده وژل کېدو ته په اشارې دا هم وویل، چې د سولې له هڅو سره سم ځینې هغه کسان هم گواښل کېږي چې د سولې په برخه فعالیت کوي، نظر شریکوي او په رسنیزو بحثونو کې راڅرگندېږي. د هغه په خبره، له دې ډلې کسانو لومړنی کس ملا سلام ضعیف و، چې د مسکو له کنفرانس تر راتگ وروسته یې کور محاصره شو او وگواښل شو. نوموړي په دې خبري کنفرانس کې له اروپایي ټولنې، امریکا او نورو مرستندویه هېوادونو وغوښتل چې په افغانستان کې د بیان د ازادۍ په ساتنه کې همکاري وکړي.

کرزي زیاته کړه چې دغه هېوادونه له افغان حکومت سره د ولسواکۍ د تامین او بیان ازادۍ د موجودیت پر سر همکاري او مرسته کوي، نو اوس د دې وخت دی چې په افغانستان کې له گواښ سره مخ د بیان ازادي هم وساتي او ملاتړ یې وکړي.

ښاغلي کرزي دغه راز په هېواد کې روان وضعیت د اندېښنې وړ وباله او پر ولسمشر غني یې غږ وکړ چې له ولس سره په همغږۍ د روان بحران په ختمولو کې خپلې رښتینې هڅې وکړي. کرزي وویل: ((هېواد همدا اوس په بحران کې دی. هره ورځ ځوانان له خپلې خاورې تښتي. ناامني او بېکاري ده. دوی د خپلې راتلونکې او سبا په اړه هیلې نه لري، نو تېښته ورته غوره ښکارېږي)).

پخواني ولسمشر وړمه ورځ هم په یوه مرکه کې پر حکومت غږ کړی و چې د سولې لپاره هڅې ډېرې کړي او د سولې لپاره له رامنځ ته شوي فرصت څخه گټه واخلي. هغه ویلي وو چې امریکا له کلونو جگړې وروسته اوس په افغانستان کې د سولې راوستو لپاره زړه ښه کړی دی، نو حکومت ته نه ده پکار چې خنډونه جوړ کړي او دغه پروسه وځنډوي.

پخوانی ولسمشر داسې مهال د سولې او بیان ازادۍ په اړه دغه خبرې کوي، چې حکومت ځان د بیان د ازادۍ او سولې ملاتړی بولي. د ولسمشر ویاند صدیق صدیقي ویلي چې دوی په تېرو کلونو کې د خبریالانو د خوندیتوب لپاره د پام وړ گامونه اوچت کړي دي او سوله هم ورته لومړیتوب لري او په دې برخه کې هڅې کوي.

## <u>والي:</u> په اروزگان کې نږدې لس زره بې ځایه شوې کورنۍ بېړنیو مرستو ته اړتیا لري

د اروزگان والي ویلي چې په دغه ولایت کې نږدې لس زره بې ځایه شوې کورنۍ بېړنیو مرستو ته اړتیا لري.

دغه څرگندونې د اروزگان والي اسدالله سعید د کډوالو چارو وزارت د مرستیالې په مشرۍ یاد ولایت ته له تللي پلاوي سره د لیدنې پر مهال کړې دي.

د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو وزارت د مرستیالې په مشرۍ پلاوی په دغه ولایت کې له څو کلونو راهیسې د جگړو له امله له بېځایه شوو کورنیو سره د مرستو او د هغوی د ژوند په اړه د معلوماتو تر لاسه کولو په موخه دغه ولایت ته تللی دی.

والي ویلي چې له تېرو څه باندې دوو کلونو راهیسې مرکز ترینکوټ ته تر اته زره زیاتې او ولسوالیو ته بیا دوه زره نورې کورنۍ د جگړو له امله کډه شوې دي.

هغه زیاته کړې، په دې موده کې د کډوالو په نوم راغلې مرستې د هغوی پر ځای زورواکو وړې او اړمنې کورنۍ له خپلو حقونو بې برخې پاتې شوې دي.

د اروزگان والي ویلي، اوس په ولایت کې د مرستو د شفافیت لپاره زمینه برابره شوې او د ځایي زورواکو ریښې له منځه تللې دي. والي له یاد پلاوي غوښتي چې له دغو بېځایه شوو کورنیو سره بېړنۍ مرستې وکړي.

د بېځایه شوو کډوالو په استازیتوب زرمینې چې دوه زامن یې هم په تېرو جگړو کې له لاسه ورکړي، ویلي چې په دې یخ ژمي کې په ترینکوټ ښار کې د کډوالۍ شپې ورځې سبا کوي. هغې زیاته کړې چې تر اوسه ورسره هېڅ ډول مرسته نه ده شوې.

خو د کډوالو او بیا راستنېدونکو چارو وزارت مرستیالې دوکتور عالمې هم منلې چې په اروزگان کې له تېرو څو کلونو راهیسې د کډوالو شمېر زیات شوی دی.

نوموړې زیاته کړې، د دغه وزارت پالیسي جوړوونکی ټیم د دې لپاره اروزگان ته له یو گډ پلاوي سره راغلی، څو د کډوالو ستونزې له نږدې ووینې او د حل لپاره یې لاس پکار شي.

د نوموړې په خبره، د ترینکوټ ښار اړوندو سیمو ته له بې ځایه شوو لسگونو کورنیو څخه یې لیدنه کړې او د هغو بد حالت یې له نږدې لیدلی دی.

نوموړې ژمنه کړې چې خپل وزارت، مرستندویه ادارو او په ځانگړې توگه ولسمشرۍ ماڼۍ ته د اروزگاني بېځایه شوو او اړمنو کورنیو د لاس نیوي لپاره به منظم پلان جوړ او مرستې به په خپل وخت ورسوي.

## <u>کابل ښاریان:</u> د برېښنا شرکت د څو پوروړو له کبله د لسگونو کورونو برېښنا پرې کړې ده

د کابل ښار په شمال کې د خیرخانې کوتل ځینې اوسېدونکي شکایت کوي چې دوی د برېښنا لگښت ورکړی، خو د برېښنا شرکت د خپلو ۱۲ پوروړو له امله، په غیرعادلانه ډول د ۸۲ کورونو برېښنا پرې کړې ده.

دوی دغه شرکت پر تبعیضي چلند تورنوي او وایي، له تېرو ۱۶ ورځو راهیسې برېښنا نه لري او که د دوی ستونزه حل نه شي، د کابل – پروان لویه لاره به وتړي.

د دې سیمې اوسېدونکي نظام الدین ازادي راډیو ته ویلي: «ولې بېگناه کسان هم باید وسوځېږي؟ ۱۲ کسان د برق پیسې نه ورکوي، خو په ټولو برېښنا پرې کېږي... که زموږ غوښتنو ته رسېدنه ونه شي، د کابل- شمال لاره تړو».

په ورته وخت کې د دې سیمې وکیل اسلام الدین اخندزاده ویلي، دوی هغه اسناد په واک کې لري چې خلکو د برېښنا پیسې ورکړې دي.

هغه ویلي: «ما سره داسې لېست شته، زه خپله کور په کور گرځېدلی یم او یاداشت کړي مې دي. یوشمېر کورنۍ د اقتصادي ستونزو له کبله او یوشمېر کورنۍ چې زورواکي دي، د برق پیسې یې نه دي ورکړې، خو دلته په ۸۲ کورونو برېښنا پرې شوې. ولې؟ جرم خو فردي دی، د برېښنا شرکت ټولو ته ولې جزا ورکوي؟»

په ورته وخت کې د برېښنا شرکت رییس امان الله غالب ازادي راډیو ته ویلي: «که د یوې سیمې له ۵۰ فیصده څخه زیات اوسېدونکي د برق پیسې ورنه کړي؛ له بده مرغه چې موږ د برېښنا له پرېکېدو پرته بله لاره نه لرو. له لسو کورونو څخه اتو کورونو د برېښنا پیسې نه دي ورکړې».

د برېښنا شرکت دغه راز ویلي، د کابل د خیرخانې کوتل تر څنگ یې د کابل په غرب، تایمني، هوتخېل او شکردرې کې هم پر متخلفینو او پوروړو برېښنا پرې کړې ده.

په ورته وخت کې حقوقپوه گل الرحمان قاضي د دې موضوع حقوقي اړخ ته په اشارې سره ویلي، په قانون کې جرم فردي دی او باید نورو ته سرایت ونه کړي.

د هغه په خبره، د قانون ۵۱مې مادې پر بنسټ که دولت او یا هم دولتي اداري خلکو ته زیان اړوي، نو اړ دي چې جبران یې کړي. گل الرحمان وایي، هغو کسانو چې د برق پیسې ورکړې، خو بیا هم پرې برېښنا قطع کېږي، د قانون یو برابر تطبیق نه دی، بلکې له حقوقو د هغوی محروم‌ول دي.

## <u>سپاه پاسداران:</u> قضایي ارگانونه دې د وروستیو لاریونونو تنظیموونکو ته سخته سزا ورکړي

د ایران د سپاه پاسداران ځواک مرستیال قوماندان امیرالبحر علي فدوي د دغه هېواد له قضایي ارگانونو غوښتي چې د وروستیو لاریونونو اصلي تنظیموونکو ته سخته سزا ورکړي.

دغه جگپوړي قوماندان هغه کسان چې د دغه هېواد په وروستیو لاریونونو کې یې گډون کړی و، اجیران بللي او پر قضایه قوې یې غږ کړی چې تنظیموونکو ته یې دې درنه جزا ورکړي.

هغه ویلي: «هغه لاسپوڅي مزدوران چې په ډاگه اعتراف کوي چې د امریکا او منافقینو مزدوري یې کړې ده، ټول مو نیولي او انشاالله د هېواد قضایي سیسټم به یې په اشد مجازات محکوم کړي».

ایراني چارواکي دغه راز وایي چې په دغه هېواد کې د وروستیو خونړیو لاریونونو مشري هغو بدماشانو او بدو خلکو کوله، چې د ایران له بهرنیو دښمنانو یانې امریکا، اسراییلو، سعودي عربستان او په بهر کې له دېره ایرانیانو سره اړیکې لري.

دا په داسې حال کې ده چې د ایران په ډېریو ښارونو کې دغه لاریونونه پر تاوتریخوالي واوښتل چې په لسگونو کسان پکې ووژل شول.

د بښنې نړیوال سازمان ویلي چې په دې تاوتریخوالو کې لږ تر لږه ۱۱۵ کسان وژل شوي او په سلگونو نور ټپیان دي.

فدوي دغه راز زیاته کړې، د اعتراضونو پر مهال ځینې کسان له نږدې په ډزو لگېدلي او وژل شوي چې د ده په خبره، د اعتراض کوونکو په منځ کې د ورانکارو کسانو حضور ښيي.

هغه ویلي: «د پردیو د پارونو په اساس یې جنایت وکړ او ډېر خلک یې ووژل، ډېر کسان له یو یا نیم متر فاصلې لگېدلي او وژل شوي دي، یانې دوی د لاریون کوونکو په ډله کې وو».

د بښنې نړیوال سازمان تېره اونۍ په یو بیان کې وویل چې د ایران امنیتي ځواکونو د ودانیو له سرونو او حتی په ځینو سیمو کې له هلیکوپټرو څخه پر اعتراض کوونکو ډزې کړې دي.

دغه سازمان ویلي، په تاوتریخوالو کې لږ تر لږه ۱۱۵ کسان وژل شوي، خو تهران د وژل شویو کسانو دا شمېره خیالي بللې ده.

په نیویارک کې دېره د ایران د بشري حقونو مرکز پر خپله وېبپاڼه لیکلي چې د کره راپورونو او د رسمي ارقامو له مخې، لږ تر لږه ۲۷۵۵ کسان نیول شوي او زیاتوي چې د نیول شویو کسانو اصلي شمېر حتی ښایي څلور زره وي.

په همدې حال کې د دغه هېواد نږدې ۵۰ وکیلانو هغه لایحه پارلمان ته وړاندې کړې چې ښایي په پایله کې یې د تېلو وزیر بېژن زنگنه استیضاح شي.



د ایران په ډېرو ښارونو کې اعتراضونه د نومبر په ۱۵مه د حکومت له هغه اعلان وروسته پیل شول، چې ویې ویل د تېلو بیې نږدې درې چنده لوړوي.

دا لاریونونه د ایران نږدې سلو ښارونو او ښارگوټو ته وغځېدل چې وروسته یې سیاسي بڼه خپله کړه او معترضانو د جگپوړو چارواکو د استعفا غوښتنه وکړه.

## د کتــاب خبـرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دریمه برخه

افغانستان

اتم څپرکی

### په لوی ننګرهار کې نوي او پخواني اسلام پال




**په کونړ کې سلفېزم**

د ۱۹۷۹ ز کال په وروستیو کې د افغانستان ختیځ کونړ ولایت د کمونیستي رژیم پر وړاندې د جګړې تر ټولو لومړی مرکز و. د قومونو له منځه د حکومتي ځواکونو پر وړاندې بریدونه کېدل، خو د جګړې په ترڅ کې ټولنیزو بدلونونو ته هم لاره اواره شوه، دا بدلونونه له پاکستان څخه راغلو اسلام پالو مشرانو راوویستل. یاد مشران د خپل سلفي شالید په لرلو سره په پاکستان کې روزل شوي وو، څکه سلفیانو په ټولیزه توګه د سعودي عربستان او د خلیج له نورو هېوادونو سره تړاو لاره.

سلفیانو به په پاکستان کې افغان کډوالو ته مذهبي زده کړې ورکولې. په پېښور کې د مولوي شمس الدین مدرسې په ځانګړي توګه د کونړ پر پښتنو کې د سلفېزم د خپرولو کار پر غاړه لاره. مولوي شمس الدین په اصل کې د سوات اوسېدونکی و، خو د روسانو له یرغل وړاندې په کونړ کې اوسېده. هغه په یوه بډایه ځایي کورنۍ کې واده کړی و. کله چې په ۱۹۸۰ ز کال جګړه تونده شوه، مولوي پېښور ته کډه شو. د مولوي شمس الدین په مدرسه کې د کونړ کډوالو زده کړې کولې. د سلفېزم زده کړې د کونړ ځوانانو ته د خلیج د تېلو په پیسو ورکول کېدې. په ۱۹۸۰ او ۱۹۹۰ ز لسیزه کې د نورستان په شمول دلته د پنجپیریانو مدرسه هم وه.

کله چې په ۱۹۷۸ ز کال نورستان د حکومت له لاسه ووت، په برګي متال ولسوالۍ کې مولوي افضل د نورستان په شمال کې د (دولت انقلابي اسلامي نورستان) په نوم یو وړوکی دولت اعلان کړ. په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې دا ځای ډېر امن و، تر دې چې د نورستان د انقلابي اسلامي دولت نومي ډلې د مجاهدینو پر اکمالاتو هم محصول اخیست. په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې دا ډله په مستقیمه توګه د سعودي او کویټ د سلفي بسپنه ورکوونکو له لوري ملاتړ کېده. سعودي خو ان دا ډله د یوه دولت په نوم وپېژنده، هغوی ته سعودي او پاکستان د قونسلګریو د پرانیستلو اجازه ورکړه.

دا ډله د وخت په تېرېدو سره وتوانېده چې قومي دودیزه رهبري له منځه یوسي. هغه مهال چې مولوي افضل په نورستان کې واک ته ورسېد، نورستان ډېره پس پاتې سیمه وه. کله چې مجاهدینو کابل ونیو، مولوي افضل هم کابل ته لاړ، خو په ۱۹۹۶ ز کال چې طالبان را پورته شول، بېرته نورستان ته لاړ، له هغې وروسته یې ځواک ډېر دوام ونکړ. په نورستان کې د اسلامي حزب پلویانو له محصول ورکولو ډډه وکړه. طالبانو هغه له نورستان څخه وشاړه، وروسته پاکستان ته لاړ، هلته یې د پاکستان له اهل حدیث ډلې سره اړیکې جوړې کړې. دا ډله بیا د وخت په تېرېدو سره په لشکر طیبه واوښته. کله چې مولوي افضل په نورستان کې د سلفېزم موډل پلی کاوه، په نورستان کې یې رول کمرنګه و، څکه نو یې عرب ملاتړ کوونکي د پښتنو په سیمو کې د بل مشر په لټه شول. په ۱۹۸۰ ز لسیزه کې د هغه عرب ملاتړي د پښتنو په سیمو کې د یوه نوي مشر په لټه شول. دې عربو تر ډېره د خیراتونو او مرستو په وېشلو کې ونډه لرله چې په پاکستان کې یې افغان مجاهدینو او کډوالو ته مرستې ورکولې. هغوی د پنجپیریانو له مدرسې څخه یوه بل فارغ شوي ته ځان نږدې کړ، هغه مولوي جمیل الرحمن نومېده، له نوموړي یې وغوښتل، په کونړ کې سلفي امارت پرانیزي.

جمیل الرحمن له خپل صافي قوم څخه ډېر پلویان پیداکړل. نوموړی په اصل کې د اسلامي حزب یو قومندان و، ۱۹۸۵ ز کال یې نوي سازمان په حزب پورې تړاو نه لاره. په دې ولایت کې تر ډېره جماعت الدعوه القران والسنه د ۱۹۸۰ ز لسیزې په پای کې کنټرول لګولی و، نور ګوندونه یې له دې ځایه شړلي وو. دا بهیر د سعودي او کویټ د مالي مرستو په مټ ډېر بریالی و. د جمیل الرحمن په ډله کې عرب داوطلب ملاتړي هم یو ځای شول.

د روسي ځواکونو له وتلو سره جمیل الرحمن نور هم را پورته شو، د حکومت په نوم یې په ۱۹۹۱ ز کال امارت اعلان کړ چې کابینه یې هم لرله. پلویانو یې ډېر ژر پر ځایي پښتنو د خپلې سخت دریځې عقیدې پلي کول پیل کړل. په دې ډله کې د مقبرو د ښکلا مخالفین هم وو. هغوی د قبرونو د ښکلي کولو او پرې د جنډو ځوړندولو مخالف وو او دا یې یو غیر اسلامي کار باله. په اسلامي حزب کې هم جمیل الرحمن ورته دریځ لاره چې ډېر ژر د حزب له مشر ګلبدین حکمتیار سره پر لانجمن تقابل واوښت. دواړو ډلو پر خپل منځ کې جګړه وکړه تر دې چې عامو وګړو ته هم پکې مرګ ژوبله واوښته. دا لانجه د جمیل الرحمن د یوه مصري ساتونکي له لوري د هغه پر وژلو پای ته ورسېده.

د جمیل الرحمن کورنۍ د نوموړي له مرګ وروسته هم د کونړ په سیاست کې شامله وه. د نوموړي وربرونو، حاجي روح الله وکیل او حاجي حیات الله د طالبانو له رژیم ځانونه ویستلي وو. دوی په پېښور کې اوسېدل، ځینې وختونه به یې ان د طالبانو د واکمنۍ مخالفت هم کاوه. هغوی په بهر کې د مېشتو افغانانو د سولې په هڅو کې ګډون کاوه. حاجي روح الله یو ځل په قبرس کې د مجاهدینو د پخوانیو قومندانانو له لوري او د ایران په ملاتړ د سولې جوړې شوې غونډه کې هم ګډون وکړ. نوموړی په روم کې د اعلیحضرت محمد ظاهرشاه له پلویانو سره هم په اړیکه کې و، غوښتل یې چې اعلیحضرت بېرته افغانستان ته راشي او د لویې جرګې له لارې د ملي یووالي او مذاکراتو خبرې مخکې یوسي. **دوام لري...**

# جک لندن

شفیق امیرزی



جک لندن امریکایي لیکوال و. هغه په جان ګریفیث مشهور و. د ۱۸۷٦ ز کال د جنورۍ په ۱۲مه په سانفرانسیسکو کې وزیږېد. هغه ته یې د مور خاوند خپل تخلص ورکړ او جان لندن جک لندن ته اجازه ورکړه چې تخلص یې وکاروي. جک د ماشومتوب دوره په سختۍ تېره کړه. د خپلې کورنۍ د مالي ملاتړ لپاره یې کله ورځپاڼې پلورلې، کله به یې له دوبي سره د کالیو په مینځلو پیسې ګټلې، په هوټل او کافي خونه کې به ګارسون او ان په بېړیو کې یې هم په مزدورۍ او کار لاس پورې کړ.

جک په ۱۴ کلنۍ کې د انګلیسي ژبې له یوه ښوونځي فارغ شو، خو دا چې مالي وضعیت یې خراب و، نو پر دې بریالی نه شو چې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي. له همدې امله یې د کارتن او کوټي جوړولو په یوه فابرکه کې کار پیل کړ. دی له ماشومتوبه په فزیکي لحاظ پیاوړی، قوي او روغ انسان و. دی به ډېر وخت یوازې و، خو د یوازیتوب وختونه به یې د خپلې سیمې په کتابتون کې تېرول. دا لومړنی ځای و چې دی یې له فرهنګ او ادبیاتو سره بلد کړ. دلته د نړۍ د فرهنګ او ادبیاتو کړکۍ د ده پر مخ پرانیستل شوه او د اکلند په څېر لیکوالانو کتابونه د ده په خدمت کې وو.

ډېر وخت په سیمه او کارځای کې ګرځېدل او له خلکو سره ناسته ولاړه ورته په زړه پورې نه وه. له ډېرو مسایلو یې په زړه کې کرکه پیدا کېدله او دا کرکه به یې کله کله په نشو او له خلکو په فاصله اخیستو هېروله. دی په سیمه کې د مستو او نشه یې خلکو له وضعیت سره بلد و. څکه دلته په سیمه کې ډېری د بېړیو چلوونکي، سوداګر، کارکوونکي او مسافر هسک ټیټ کېدل چې نشې او مستۍ به یې کولې. یو وخت فرصت ورته برابرېږي چې د صدف په غیر قانوني ښکار لاس پورې کړي او ده هم په دې اړه د سوداګرو او غیر قانوني کاروباریانو وړاندیز ومانه.

ده له دې فرصته ښه ګټه پورته کړه، په دریو میاشتو کې یې ښې ګټې وکړې، بیا سانفرانسیسکو ته لاړ. همدا چې بندیز لرې شو، بېرته راغی او د بحري صدف په ښکار یې پیل وکړ. میاشتې میاشتې یې له رامنځ ته شوي فرصت څخه ګټه پورته کړه او کار یې وکړ. دی ډېر وخت له بېړیو او ښکاریانو سره ګرځېد. له همدې امله یې یو کال پوره د امریکا ګردچاپېره سفرونه هم وکړل. کله چې جک کلیفورنیا ته را وګرځېد، نو پرېکړه یې وکړه چې خپل ځینې سپک او بې ارزښته عادتونه لرې کړي او د خپلې مور د خوشالۍ لپاره ځان یو پوه انسان وښیي. ده هڅه کوله چې یو سم کاروبار پیدا کړي او په دې توګه د کور لپاره پیسې وګټي.

په ۱۹ کلنۍ کې جک پرېکړه وکړه چې بېرته ښوونځي ته ورستون شي. ده اوس هم کار کاوه او هم یې زده کړې کولې. په همدې وخت کې لږ لږ له سیاسي مفکورو او ګوندونو سره بلد شو. دی له دې ډلې په ځانګړې توګه د سوسیال ګوند له نظریاتو سره موافق او د دغه ګوند سیاسي نظریې ورته په زړه پورې وې. دی له نوې ځوانۍ د کارل مارکس، انګلیس، نیچه او سوسیالېزم مطالعه کوله. ده چې کله د امریکا نورو ایالتونو ته سفرونه کول، نو د پورته کسانو او نظریو اثار یې هم مطالعه کول. له همدې امله سوسیالېزم د کلونو لپاره د جک لندن د فکر او مفکورو بنسټ و. جک غوښتل چې په سیاسي جریانونو کې فعالیت پیل کړي، خو په لومړي سر کې یې باید پوهنتون خلاص کړی وای. دی چې کله د کارګر سوسیالیست ګوند غړی شو، نو دا د دې سبب شو چې دی له ښوونځي وباسي. له همدې امله یې هڅه وکړه چې پخپله مطالعه وکړي او وروسته یې د دې مطالعې په پایله کې د کلفرنیا برکلي پوهنتون ته لار پیدا کړه. په پوهنتون کې ومنل شو، خو لا یې د زده کړو او تحصیل څلور میاشتې نه وې تېرې شوې چې په پوهنتون کې ستړې کوونکو حاکمو شرایطو له زده کړو زړه توری کړ. په پای کې اړ شو چې پوهنتون پرېږدي. بیا یې په لیکوالۍ او مطالعې پیل وکړ. په همدې وخت کې یې له دوبي سره د کالیو په مینځلو کې برخه اخیسته، پیسې یې ګټلې او د ژوند لګښتونه یې له همدې لارې تامینول.

په ۱۹۸٦ ز کال کې یې د سرو زرو له پلټونکو سره کلاندایک ته سفر وکړ. خو دا سفر ناکام و او د مور خاوند یې چې دی یې برکتي و، ومړ. ده په شمال کې مهم شیان ولیدل. کله چې بېرته اکلنډ ته را وګرځید، نو د جک د لویې بریا وخت هم را رسېدلی و. ده د (شمال ادیسه) په نوم د لنډو کیسو یو کتاب چاپ کړ، چې په هغه کې یې په شمال کې د سرو زرو د پلټلو داستان راوړی و. دا کتاب یې په ۱۹۰۰ ز کال کې چاپ او خپور کړ. دا کتاب د هغه لومړنی اثر و.

په ۱۹۰۳ ز کال کې یې د وحش غږ داستان خپور کړ. دغه داستان کلاندایک ته د سفر په اړه لیکل شوی دی. په داستان کې د یوه سپي برخلیک را اخیستل شوی دی. دا ګرګي سپی وي او باک نومېږي. وروسته له دې چې د ډېرو اربابانو، کارګرانو او انسانانو تر منځ ژوند کوي او له دوی سره ښې شېبې لري، دوی مینه ورکوي، نازوي یې او ښه یې ساتي؛ خو دی بیا هم له ځنګل او په ځنګل کې له ژوند کولو سره علاقه لري. تر هغه ګزاره کوي چې ارباب یې ژوند دی، خو کله چې د یوې قبیلې په لاس وژل کیږي، نو باک نومی سپی هم ځنګله ته تښتي. د دغه داستان د لیکلو مهم هدف دا دی چې جک لندن د طبیعت او ذاتي خواصو په اړه لیکل کړي دي. دا چې یو موجود څنګه له خپلو ذاتي خواصو سره اړیکه لري او هغه څنګه پالي، په همدې داستان کې واضح شوي دي.

جک لندن په ۱۹۰۴ ز کال کې د روس او جاپان د جګړې پر مهال لرې پرتو سیمو ته ولېږل شو. هلته له تګ سره سم یې له لومړنۍ مېرمنې بېل شو او هلته یې بل واده وکړ.

هلته یې د کښتۍ د اخیستلو اقدام وکړ. غوښتل یې له همدې کښتۍ په استفادې د نړۍ ګردچاپېره سفر وکړي. خو تر استرالیا وړاندې نه ولاړ. په ۱۹۰۹ ز کال کې یې د مارتین آیدین په نامه داستان ولیک. په دې داستان کې د مارتین آیدین په نامه یو بېوزله دریانورد یو شتمن ځوان له ډوبېدو ژغوري. بیا د دې شتمن ځوان پر خور مینېږي. هڅه کوي چې ځان نجلۍ ته ورسوي، له همدې امله په سمندرونو کې کار ته شا کوي او په زده کړو پسې وځي. د ډېر وخت له لګولو او زده کړو وروسته، ادبیاتو ته مخه کوي. مقالې لیکي. داستانونه یې مجلو ته د چاپ لپاره لېږي، خو ډېری مجلې او نشریې یې د مقالو او داستانونو له خپرولو ډډه کوي. دی لا هم بېوزله وي. هر ځای له ناکامۍ پرته بل هېڅ نه ویني. مینه یې چې کورنیو اصولو ته ژمنه ده، له ده لاس په سر کېږي. ناڅاپه یې بخت اوړي، خپروندویان یې د اثارو هنري اړخ ته متوجه کېږي. دی له دې وروسته شتمن کېږي، مشهوره کېږي او پخوانۍ مینه یې بېرته ورته راګرځي؛ خو دا ځل دی مخ ترې اړوي او وایي چې نور ده ته هغه پخوانۍ نه ده، له دې مسئلې د تېښتې لپاره کښتۍ اخلي او د نړۍ ګردچاپېره سفر ته زړه ښه کوي.

د جان بارلي کارن ژوند د جک بل اثر دی. په دې اثر کې هم تر ډېره د جک لندن خپلې تجربې دي. د شخصي ژوند څرګونه یې دي. په دې داستان کې هغه د یوه داسې کس کیسه کوي چې په لندن کې اوسي او هر ډول نشه یې څښاک کاروي. دی په دې کې په اصل کې د خپلو نشو او مستیو کیسې کوي. دی وایي چې په لومړي سر کې د خوند لپاره نه؛ بلکې د خپلې سودا له امله یې نشه یې توکي وکارول. د جک په خبره، د ده دا اندېښنه وه چې دا څه شی دي او په خلکو کې څه تغیر راولي. وروسته له دې د دې لپاره چې په مجلسونو کې ټولنیز او دیده سرې ښکاره شي، بیا یې نشه کوله او په محفلونو کې یې له څښاک مخ نه اړاوه. څو ورځې وروسته چې نشه یې ډېرېږي، نو د ځان وژنې فکر ورسره پیدا کېږي او دا فکر پیاوړی کېږي چې بیا ځان اوبو ته اچوي، خو ژغورل کېږي.

وروسته لږ لږ په ځان کې دا تمایلویني چې باید لیکل وکړي او ولولي. دی پرېکړه کوي چې د نشو له دامه ځان خلاص کړي. دی وایي چې د نشو کول او شراب څښل نه کومه ارثي ځانګړنه ده او نه بدن ورته اړتیا لري؛ خو یوازې موږ ځان ورباندې عادت کوو او هغه د ځان لپاره یوه اړتیا ګرځوو. دا کتاب سره له دې چې یو له پنده ډک کتاب دی، له دې سره جوخت د لیکوال د ژوند خصوصي مسایل هم پکې راغلي دي. لیکوال په دې اثر کې د خپل ژوند دردناکه کیسه بیانوي. لوستونکی په حوادثو کې په ځان پسې راکاږي او دا ښیي چې یو څوک څنګه د هنري او اخلاقي مسایلو په منځ کې له خپلو رواني کشمکشونو سره راګیر دی.

جک لندن د پورته اثارو تر څنګ داسې اثار هم لري چې په هغه کې مینه راغلې او د ژوند مینه ناکې شېبې انځوروي. د سپوږمۍ دره داستان یې په ۱۹۱۳ ز کال کې لیکلی دی. دا یو تخیلي اثر دی. ګرځنده ستوری یې یو بل خیالي داستان دی. همدا راز یې لنډې لنډې کیسې لکه د لیوه بچی او له ژوند سره مینه هم د یادولو وړ دي.

له ۱۹۱۳ ز کال وروسته د جک لندن د اثارو شهرت له امریکا را ووت او نړیوال شو. د نړۍ په ډېرو ژبو وژباړل شول. له دې وروسته نو جک لندن د نړۍ د شتمنو او مشهورو لیکوالانو په کتار کې و. خو دا ټول اثار د یوې ځانګړې فلسفې پر بنسټ ولاړ دي. د ده فلسفه د کارل مارکس د باورونو پر بنسټ ولاړه ده. دی تل هڅه کوي چې بشر له بېوزلۍ او ناتوانۍ وژغوري. جک لندن د بېوزلانو او بې کسانو مدافع لیکوال دی. دی د دې غوښتونکی دی چې ټول ارام ژوند ولري او په دې برخه کې لارښوونې او نصیحتونه هم لري.

په ټولنه کې د خرافاتو او ناسمو دودونو پر وړاندې درېدل او له هغو بغاوت کول هم د جک لندن د اثارو منځپانګه ده. ده د خپلو اثارو د اتلانو په شخصیتونو کې استعداد، وړتیاوې، ځوانمردي، غیرت، خوش طبعي، نرمښت، نیک نیت او نور ورته ارزښتناک خویونه په پوره استادۍ او مهارت ځای پر ځای کړي دي.

دا هم ویلی شو چې ډېر کم امریکایي لیکوالان د جک لندن په کچه محبوبیت او شهرت لري. دی نه یوازې په کور د ننه؛ بلکې بهر له امریکا د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې په بېلو ژبو لوستونکي لري. جک لندن د خپل ژوند په اوږدو کې په ځلونو تېپي شوی او ناروغ شوی دی، خو له نن پوره ۱۰۳ کاله وړاندې د ۱۹۱٦ ز کال د نومبر په شپاړسمه د بډوډو د ناروغۍ له امله ومړ.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۸۰ |
| € | ۸۶,۷۰ |
| Rp. | ۵۰۱ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۴۰ |
| £ | ۱۰۰,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړني شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د ژوند په اړه اته ترخه حقیقتونه

ژباړه: احمد فرهاد توتاخېل

که چیرې ته هم زما په څېر واوسې، نو ته به هم د بریا د «جادویي کیسو» اورېدلو یا هم لوستلو پر وړاندې حساسیت وښیې.
د بریا ډېری کیسې له دا ډول خبرو ډکې وې:
«ما هیلې درلودې»
«بالاخره زه خپلو هیلو ته ورسېدم»
«ګوره! اوس زه تا ته نصیحت کوم».
او ډېری وخت لیکوال په خپلو ستونزمنو حالاتو پرده اچوي، د دې لپاره چې ځان چابک او هوښیار څرګند کړي.
زه اوس ۲۹ کلن یم. لکه څنګه چې په ژوند کې زه لا هم ډېرې زده کړې ته اړتیا لرم، نو په همدې اساس تر دې دمه دومره پوهېږم، چې ژوند هغومره هم اسانه نه دی، لکه څومره یې چې د بریا کیسې اسانه ښیې.
په همدې اساس، نن ورځ غواړم د ژوند په اړه هغه اته ترخه حقیقتونه درسره شریک کړم، چې ټولنیزې رسنۍ یې په اسانۍ سره موږ ته نه را په ګوته کوي:

**۱- له موخو پرته ژوند بې مانا دی**

البرټ انشټین وایي: «که غواړې خوشاله ژوند وکړې، نو له یوې موخې سره یې وتړې، نه له خلکو او شیانو سره».
که چیرې تاسې د یوه شي د لاسته راوړلو لپاره کار نه کوی، نو تاسې بې هدفه ژوند کوی. موخې ټاکل له موږ سره د ښو او بدو په پېژندلو کې خورا زیاته مرسته کوي.
کله چې زه خپل تېر ژوند ته مخه کړم، نو زما تر ټولو خوشاله شېبې هغه وې، چې ما پکې د حال زمان پر شیانو تمرکز کړی و او د لویو لاسته راوړنو لپاره مې کار کړی و.

**۲- مهمه نه ده چې ستاسې په اړه نور خلک څه فکر کوي**

ریچارډ پي فینمن وایي: «دا زما مسوولیت نه دی چې زه باید د خلکو په خوښه ژوند وکړم او څه چې هغوی فکر کوي، زه یې باید وکړم او دا هم زما مسوولیت نه دی چې زه باید هغسې واوسم، چې دوی یې غواړي. دا د دوی خپله تېروتنه ده، نه زما».
زه پر دې پوره ډاډمن یم، چې ډېری خلک دا ډول دي او خپل ژوند په نورو خلکو او شیانو پورې تړي. موږ ټول باید پر دې پوه شو چې دا ټول تشویشونه څومره احمقانه دي. د ځان ارزښت زیاتولو لپاره په نورو خلکو او شیانو پسې ځان تړل او تکیه کول روغتیا ته ضرر رسوي، نه ګټه.
هغه وخت چې کله خلک ستاسې پر وړاندې مثبتو خبرو ته د پای ټکی کیږدي، نو بیا به ځان بې ارزښته او ناهیلی احساس کړی.
اوس نو دا په تاسې پورې اړه لري چې څنګه کولی شی د خلکو په منځ کې ځای پیدا کړی او خپل ارزښت زیات کړی.



**۳- موږ په خپل ژوند کې پر زیاتو شیانو کنټرول نه لرو**

خلک هڅه کوي چې په ژوند کې هرڅه کنټرول کړي، له همدې امله ډېری خلک د اضطراب پر ناروغۍ اخته کیږي، خو حقیقت دا دی چې موږ پر هر شي پوره برلاسي نه یوو.
همدا شېبه مو د خپل وجود په اړه لږ فکر وکړئ. د سر او ځان وېښته مو په خپله لوییږي، د زړه د ضربان کنټرول ستاسې په لاس کې نه دی او دې ته ورته نورو برخو ته یې هم پام وکړئ.
هېڅ انسان بشپړ نه دی او باید دا ومنې چې پر ژوند ډېری کنټرول د دوی په لاس کې نه دی.
په همدې اساس، د ژوند په ځینو برخو کې باید ځینې شیان پرېږدئ. هغه څه چې نه شی کنټرولولی، باید ویې منئ او د هغه په ځای باید خپل وخت پر هغو شیانو تېر کړئ، چې له وسې مو پوره وي او کنټرولولی یې شی.

**۴- ناکامي؛ بریا ته د رسېدو لار ده**

هېڅوک له بریاوو ډک ژوند نه لري. په ژوند کې هر بریالي کس هرو مرو ناکامۍ تجربه کړې دي. له ناکامۍ پرته بریا ته رسیدل ناشونی کار دی او هېڅوک نه شي کولی چې بریا ته د رسېدو لپاره له ناکامۍ مخنیوی وکړي، خو بیا هم ډېری وخت موږ له ناکامېدو مخنیوی کوو، ځکه چې موږ ته د خپګان احساس راکوي.
خو که چیرې رښتیني واوسو، نو په ژوند کې ناکامي موږ ته تر ټولو ښه درس راکوي. په همدې اساس، اوس نو وخت د دې دی چې باید له ناکامۍ څخه هېڅ راز وېره ونه لرو، ځکه همدا ناکامي موږ د موخې تر منزله رسوي.

**۵- توکي او موقف د انسان شخصیت نه څرګندوي**

مشهوره وینا ده چې وایي: «په ژوند کې تر ټولو ښه شیان، (شیان) نه دي».
له انسان سره ګرانبیه موټرونه، برنډ لرونکي او زړه راښکونکي بکسونه، ساعتونه او کالي په رښتیا سره چې ښه ښکاري، خو د یوه شخص په توګه په ارزښت کې یې هیڅ ډول زیاتوالی نه شي راوستی.
په همدې اساس، وخت د دې دی چې باید پر دغو اجناسو تمرکز کول پرېږدئ او په باارزښته او مانا لرونکو تجربو او اړیکو جوړولو کار پیل کړئ.

**٦- فکر کول له عمل کولو سره مساوي نه دي**

په ځوانۍ کې موږ او تاسې ټول خپلې شپې او ورځې په خوب لیدلو تېروو، خو که چیرې له خوب لیدلو (فکر کولو) سره عمل نه وي یو ځای، نو هېڅکله به هم مطلوب شیان تر لاسه نه کړو او نه هم تر اوسه چا تر لاسه کړي دي.
د ژوند په سفر کې به بریا هېڅکله هم موږ ونه مومي او انتخاب به مو نه کړي؛ دا زموږ خپل مسوولیت دی چې باید د هغه شي د لاسته راوړلو لپاره لاس پکار شو او خواري وکړو، چې په اړه یې موږ فکر کوو.

**۷- په ژوند کې بدلون یوازینی قانون دی چې تاسې کولی شی پرې حساب وکړئ**


جان اف کینیډي وایي: «بدلون د ژوند قانون دی او هغوی چې یوازې ماضي او حال زمان ته نظر کوي، په رښتیا سره چې راتلونکی یې له لاسه وتلی دی».
د کایناتو په خلقت کې بدلون یوازینۍ پدیده ده، چې کولی شي د انسان خوی، خواص او عادتونه بدل کړي او یوې سمې لارې ته د هدایت انګېزه ورکړي.

**۸- تشویش کول بې ګټې دي**

ډالی لامه وایي: «که چیرې یوه ستونزه د حللار ولري، که چیرې د ژوند شرایط داسې وي چې په اړه یې تاسې کوم څه کولی شی، نو تشویش کولو ته هیڅ اړتیا نشته. خو که چیرې برعکس اوسی، نو تشویش کول هیڅ مرسته درسره نه شي کولی او په تشویش کولو کې هیڅ ګټه نشته». تشویش زموږ او ستاسې په ذهنونو کې یوازې ځای نیولی، خو په حقیقت کې زموږ ژوند ته هیڅ ډول ارزښت نه شي ورکولی.
ایا تشویش روان حالات یا هم شته ستونزې حل کولی شي؟ که نه شي یې کولی، نو یوازې د وخت د ضایع کولو په مانا دی.

# نورستانی: معترض نوماندان دې کمېسیون ته د رایو د بیاشمېرنې اجازه ورکړي

د هېواد په ځینو ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې پر سر د ټاکنو خپلواک کمېسیون او معترضو کاندیدانو لانجه لاهم دوام لري.
د دغه کمېسیون مشرې د ولسمشریزو ټاکنو د کاندیدانو له ټیمونو او پلویانو غوښتي چې دغه کمېسیون ته د رایو د بیاشمېرنې او تفتیش اجازه ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې وروسته له هغې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ولایتونو کې د رایو د بیاشمېرنې او تفتیش د بهیر پیل اعلان کړ، د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې او د ګلبدین حکمتیار په مشرۍ د سولې او اسلامي عدالت ټیمونو یې پر وړاندې مزاحمت پیل کړ.
دغه دواړې ډلې ادعا لري چې د روان کال ټاکنې ګټونکی نه لري او دوی کمېسیون او د ولسمشر اشرف غني دولت جوړوونکی ټیم پر درغلۍ تورنوي.
په ورته وخت کې د ولسي جرګې او مشرانو جرګې ځینو غړو هم ورمه ورځ د ټاکنو له کمېسیونه وغوښتل چې د تلې د شپږمې د ټاکنو لومړنۍ پایلې ژر تر ژره اعلان کړي.
بلخوا عام افغانان هم وایي چې روان مبهم حالت په تنګ کړي او غواړي چې کمېسیون د دوی د رایو نتیجه ډېره ژر اعلان کړي.
خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې حوا علم نورستانۍ له ازادي راډیو سره په ځانګړې مرکه کې ویلي چې د رایو د بیاشمېرنې پر وړاندې د مزاحمتونو له کبله دوی په دوو لارو کې ګیر پاتې دي.
هغې زیاته کړې: «زموږ غوښتنه له ټولو دا ده چې لطفاً له موږ سره همکاري وکړئ، تاسو په نیمه لاره کې پرېښي یو، اوس نه دې خوا ته تللی شو، نه بلې خوا ته. نو پایلې څنګه اعلان کړو، دا زموږ لپاره لویه ستونزه ده او خورا اندېښمن یو، دا خو ډیموکراسي ده، نو په ډیموکراسي کې داسې یو وضعیت!؟»




د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون تورنوي چې د یوې ډلې په ګټه فعالیت کوي.
د دغه ټیم ویاند فریدون خوځون د نورستانۍ د غوښتنې په ځواب کې کمېسیون یو ځل بیا له قانون څخه پر سرغړونو تورن کړی دی.
هغه ویلي: «زموږ غوښتنه دا ده چې پایلې باید پر وخت اعلان شوې وای او کمېسیون باید د پایلو د اعلان نېټه دوه- درې ځلې نه وی ځنډولې، خو متأسفانه دوی عوام فرېبي وکړه، له قانونه یې مخ وګرځاوه، د یو مشخص ټیم غوښتنو ته یې سر ټیټ کړ او خپله خپلواکي یې ونه شوی ساتلی، د تناقض اصلي مسوول کمېسیون دی چې باید ځواب ووایي».
یاد ټیم ټینګار کوي چې هغه رایې باید باطلې اعلان شي چې د تلې له شپږمې مخکې او وروسته په بایومټریک دستګاوو کې ثبت شوې دي.
دوی د هغو څه کم دوه نیم زرو محلونو او ۱۳۷ زره او ٦۳۰ نورو رایو باطلېدل هم غواړي، چې معلومات یې د دوی په خبره نیمګړې دي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشره مېرمن نورستانۍ وایي چې د شکایتونو د څېړنې لپاره قانوني بنسټونه شته.
د یادونې ده چې ولسمشریزې ټاکنې د تلې په شپږمه نېټه وشوې، خو حتی لومړنۍ پایلې یې د معترضو ټیمونو د مخالفت له کبله لاهم نه دي اعلان شوې.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!

TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

سه شنبه د ۱۳۹۸ د لیندۍ پنځمه | د ۲۰۱۹ د نومبر ۲٦مه | ٤٦۹مه ګڼه

www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۸ | ۹ | ۱۵ | ۵ | ۱۹ | ۱۵ |
| ۰ | -۳ | ۱ | ۱ | ۹ | ۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۰۸ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښین ۱۱:٤۱ | مازیګر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤۵ | ماخوستن ۰٦:۱۳

## نړۍ



# سپاه پاسداران: قضايي ارګانونه دې د وروستيو لاريونونو تنظيمونکو ته سخته سزا ورکړي


۳

## رویټرز: ترکیه د سوریې په شمال کې د کردانو پر وړاندې د بیاځلي عملیاتو د پیل پلان نه لري



یوه لوړپوړي ترکي چارواکي د نوم نه ښودو په شرط رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې هېواد یې د سوریې په شمال کې له امریکا او روسیې سره هوکړې ته ژمن دی او په دې سیمه کې د عملیاتو د بیا پیل لپاره پلان نه لري.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزارت خبرداری ورکړی و چې د یاد هېواد پوځ به ډېر ژر یوځل بیا په سوریه کې د کردانو د ډیموکراټیکو ځواکونو پر وړاندې پراخ پوځي عملیات پیل کړي.
وروسته له هغې چې ولسمشر ټرمپ د سوریې له شماله د خپلو پوځیانو د ایستلو اعلان وکړ، د ترکیې پوځ په یاده سیمه کې د کردانو پر وړاندې پراخ پوځي عملیات پیل کړل چې په نړیواله کچه له پراخو غبرګونونو سره مخ شول.
د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان هغه مهال د عملیاتو له پیل سره سم د سوریې په شمال کې مېشتو کردانو ته خبرداری ورکړ، چې که له سیمې ونه وځي، سخت به وځپل شي.
اردوغان ویلي، په یاده سیمه کې یې د عملیاتو له پیل څخه موخه ترکیې ته د متوجه ګواښونو له منځه وړل او په دې سیمه کې د سوري کډوالو د بېرته راستنولو لپاره د «خوندي سیمې» رامنځ ته کول دي.
د ترکیې دغو عملیاتو د کردانو او د سوریې د حکومت په ګډون، پراخ نړیوالو غبرګونونه راوپارول چې په پایله کې یې دغه هېواد اړ شو څو له امریکا او روسیې سره په دې سیمې کې پر اوربند هوکړه وکړي.

## کرېملېن: ولسمشر پوټین به د مهمو مسایلو پر سر د بحث لپاره په راتلونکې جنوري میاشت کې ترکیې ته لاړ شي



کرېملېن اعلان کړی چې د روسیې ولسمشر ویلادیمیر پوټین به د راتلونکي کال په جنوري کې د مهمو مسایلو پر سر د بحث لپاره ترکیې ته ولاړ شي.
د کرېملېن ویاند دیمتري پېسکوف ویلي چې نوموړی له خپل ترکي سیال سره څه موده مخکې د دې سفر پرسر هوکړې ته رسېدلی دی او دواړه لوري به د سوریې په ګډون، د منځني ختیځ پر وروستي کړکېچ بحث وکړي.
هغه دغه راز زیاته کړې چې پوټین به د نورو موضوعاتو تر څنګ، د دغه سفر پر مهال په ترکیه کې د ترک ستریم په نوم د ګازو د نوي نللیکي د پروژې پرانیسته هم وکړي.
د ترک ستریم په نوم پروژه د ۵۷۰ کیلومترو په اوږدوالي له روسیې څخه ترکیې او له هغه ځایه د اروپا جنوب او جنوب- ختیځ ته د ګازو د لېږد پروژه ده چې هر کال د ۳۱.۵ میلیارده متره مکعب ګاز د لېږد ظرفیت لري.
د یادونې ده چې په دې وروستیو کې په منځني ختیځ کې روانو کړکېچونو او له روسیې څخه د اېس- ۴۰۰ دفاعي توغندیو د پېرلو تړون د امریکا او ترکیې اړیکې خړې پړې کړې، نو له همدې کبله انقره هڅه کوي چې د متحده ایالتونو پر ځای پر روسیې خپله تکیه زیاته کړي، خو امریکایي چارواکو بیا بیا د دغو اقداماتو له کبله ترکیې ته خبرداری ورکړی چې که پر خپل دریځ ودرېږي، سخت بندیزونه به پرې ولګوي.


## داکتران و کارمندان شفاخانهٔ ولایتی سمنگان اعصاب کاری کرده اند



داکتران و کارمندان شفاخانهٔ ولایتی سمنگان، به خاطر عدم پرداخت حقوق و امتیازات چهارماههٔ شان، دست به اعتصاب کاری زدند.
آنها در حالی دست به اعتصاب کاری زده اند که به اساس معلومات کارکنان شفاخانه، در حال حاضر در این شفاخانهٔ دولتی، ده ها تن بستری اند و همه روزه حدود صد تن به این مجهزترین مرکز صحی در سطح سمنگان مراجعه می کنند.
داکتر مکی متخصص بخش نسایی- ولادی این شفاخانه، به آژانس خبری پژواک گفته است که به دلیلی دست به اعتصاب زده اند که معاش چهار ماههٔ آنان پرداخت نشده است.
موصوف افزوده است که داکتران و دیگر کارکنان این شفاخانه، به دلیل عدم پرداخت معاش های شان دچار مشکل شده اند؛ زیرا در کنار دیگر نیازها، به مواد سوخت برای گرم کردن منازل شان ضرورت دارند.
به گفته او؛ معاش تنها منبع عاید نود درصد کارمندان شفاخانه است و تنها ده درصد داکتران، در کنار کار در این شفاخانه، معاینه خانه های شخصی دارند.
شجاع الدین ٦۰ ساله باشنده قریه بابه قمبر ولسوالی خُرم سارباغ این ولایت که خانم مریضش را برای تداوی به این شفاخانه آورده، گفته است: «خانمم مریض است، امروز به خاطر تداوی به شفاخانه آوردم؛ اما داکتران توجه نمی کند، اعتصاب کرده اند، نمی دانم چه کنم».
از سویی هم، داکتر عبدالخلیل مصدق رئیس صحت عامه سمنگان، به پژواک گفته است: «همین اکنون در کابل هستم و موضوع مشکلات معاش کارمندان شفاخانه را با مسئولین وزارت صحت عامه در میان گذاشتم، مشکل اصلی در وزارت مالیه بود که تخصیص معاشات را به وقت و زمان معین اجرا نکرده است».
اما او افزوده است که اکنون این مشکل حل شده و تلاش می شود که معاش داکتران و دیگر کارکنان شفاخانه ولایتی سمنگان، به زودترین فرصت پرداخت شود.


## ژوند

## پخوانۍ بریاوې مو در په یاد کړئ!



که غواړئ په مخ کې پراته خنډونه له منځه یوسئ او که غواړئ خپلو بالقوه وړتیاوو ته ورسېږئ، نو په تېر کې د خپلو بریاوو او هغو مرستو په اړه فکر وکړئ چې خدای پاک درسره کړې دي. په دې سره مو پر خدای پاک ایمان او باور لا پیاوړی کېږي او تر څنګ یې د دې حس درته پیدا کېږي چې خدای پاک به په راتلونکې کې هم درسره ورته مرسته وکړي. هغه وخت مو در په یاد کړئ چې وروسته له ډېرو وختونو خدای پاک د بچي ښبتن کړی، هغه څه چې ډاکټرانو یې تمه در شکولې وه. د هغې دندې په اړه فکر وکړئ چې یو وخت مو ارمان و او اوس عملاً په هغه بست کار کوی. څه ډول یې له بدو پېښو وساتلی او له ښو ښو خلکو سره یې مخ کړی. کېدای شي تاسې فکر وکړئ چې په ستونزو کې را ګیر یاستی، خو خدای پاک ورته لاره لیدلې وي. خدای پاک درته وسیله جوړوي چې یو څوک درسره ښه وکړي، خدای پاک دومره لوی ذات دی چې غم مو په خوښۍ بدلوي. په وجود کې مو د خدای پاک د رحمتونو او مرستو در په یادولو حس پیاوړی کړئ. دا هغه غوره فکرونه دي چې په راتلونکي کې مو نورو بریاوو ته هیله من کوي.

## شات د خوړو تر څنګ د درملو کار هم ورکوي



له ډېرې پخوا زمانې راهیسې شات د دې لپاره چې د میکروب ضد خاصیت لري، په سنتي طب کې ترې د ټپونو د درملنې لپاره کار اخیستل کېده. د هغې څېړنې پر اساس چې د انګلستان د مایکرو بیولوژۍ په کنګره کې تر سره شوې، په ګوته کېږي چې شات د ناسور ټپونو د درملنې لپاره ګټوره ماده ده چې د انتي بیوتیکو پر وړاندې د بکتریاوو مقاومت له منځه وړي.
د شاتو په اړه چې په دې وروستیو کې کومې څېړنې شوې دي، ښيي چې شات د ټپ منځ ته د بکتریا د داخلېدو مخه نیسي؛ ځکه دا د بکتریا د ژوندي پاتې کېدو لپاره هغه اړینه مرحله ده چې په پایله کې یې ټپ میکروبي کېږي. شات کولای شي چې باکتریاوې د انتي بیوتیکو پر وړاندې حساسې کړي او همدا حساسیت یې د له منځه تلو سبب ګرځي.
څېړنې دا هم په ګوته کوي چې د ټپونو د درملنې لپاره له انتي بیوتیکو سره د شاتو کارول نسبت یوازې ضد میکروبي داروګانو ته ګټور تمامېږي.